عمومي اسامبله
امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۷ سپتمبر ۲۰۱۶
اصل: انګلیسي

عمومي اسامبله
اویایمه ناسته
د اجنډا ۳۹ ماده
**د افغانستان حالت**

د امنیت شورا
یو اویایم کال

**د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې**

**د عمومي منشي راپور**

**لومړی: پیژندنه**

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا ۲۲۷۴ (۲۰۱۶) پریکړه لیک په تعقیب په کومو کې چې له ما غوښتل شوي وو ، چې په هرو دریو میاشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم ، وړاندې کیږي.

۲. زما د ۲۰۱۶ کال د جون د ۱۰ نیټې (A/70/924-S/2016/532) د راپور د خپریدو راهیسې ، دغه راپور د پام وړ بشري ، پراختیایي او بشري حقونو د هڅو په شمول ، په افغانستان کې د ملګرو فعالیتونو په اړه تازه معلومات برابروي. راپور دغه راز د افغانستان په تړاو د کلیدي سیاسي او امنیتي پرمختګونو او د سیمه ییزو او نړیوالو پیښو لنډیز برابروي.

**دویم: اړوند پرمختګونه**

۳. د افغان ولسمشر اشرف غني او اجرائیه رییس عبدالله عبدالله تر منځ مخ پر زیاتیدونکې تنش او دوامداره امنیتي ننګونو او د مخالیفو سیاسي ډلو له خوا راټوکیدلې فشار د مخ پر زیاتیدونکې بې ثباتي سره مرسته کړې. پارلمان ، د دفاع وزیر او د ملي امنیت د رییس لپاره ، دوه مهمې ټاکنې تایید کړې ، په دې سره یې د پارلمان د تاسیس څخه نږدې دوه کاله وړاندې د لومړي ځل لپاره په امنیت پورې د اړوندې کابینې د چارواکو بشپړ فهرست یقیني کړی. افغانستان تر ۲۰۲۰ کال پورې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو لپاره د مالي تمویل چارې خوندي کړې. د تازه بې ځایه کیدنو او له هغه راهیسي چې په ۲۰۰۹ کال کې ملګرو ملتونو د ملکي تلفاتو په سیستماتیک مستند کولو پیل وکړ د طالبانو سره د روانو نښتو له امله د کومو په پایله کې چې ډیر ملکي تلفات را منځ ته شوه د هیواد په کچه په کلکه امنیتي ځواکونه و ازمویل شول. په عین وخت کې ، د طالبانو سره د سولې د یوه ممکنه بهیر لپاره لرلیدونه محدود وو. د افغانستان د سولې او پراختیا د ملي چوکاټ په شمول ، حکومت د افغانستان په اړه د

بروکسل د کنفرانس لپاره خپل چمتووالي ته چې د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۵ نېټه به ترسره شي دوام ورکړ. د فساد ضد اجنډا د پلي کولو په برخه کې د لمس وړ لاسته راوړنې ترلاسه شوې.

**الف. سیاسي پرمختګونه**

۴. د راپور ورکولو د مودې پر مهال د حکومت تر منځ د تنش او کشمکش په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی. د اګست په ۱۱ ، اجرائیه رییس د کلیدي ګمارلو په اړه د ولسمشر له خوا د نومړي سره د نا کافي سلا مشورو په حیث په څرګند ډول خپلې نیوکې مطرح کړې او د هغه تړون لیک پلي کول یې چې په نتیجه کې یې د ملي یووالي حکومت را منځ ته شو ، نا بشپړ وباله. په دې ټاکنو کې په هسپانیا کې د سفیر په حیث د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پخواني رییس ښاغلي احمد یوسف نورستاني او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د رییس په توګه د ستراتیژیکو اطلاعاتو په اړه د ولسمشر د لوړ پوړې چارواکې ښاغلي نادر نادري ټاکل شامل دي چې په ترتیب سره د جولای په ۹ او د اګست په ۹ اعلان شول. د دې لپاره چې د اجرائیه رییس اندیښنې واورېدل شي ، دواړو مشرانو د اګست په ۱۷ سره ولیدل. تمه ده چې په دې لړ کې به نورې ناستې هم ترسره شي.

۵. د ولسمشر او اجرائیه رییس تر منځ د سیاسي شخړې د رابرسیره کیدو څخه د مخه ، حکومت د سیاسي مخالفو مشرانو له خوا د مخ پر زیاتیدونکو عامه ننګونو سره مخ شو ، دغو مخالفو مشرانو ادعا کوله هغه تړون چې دوه کاله د مخه د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۲۱ نېټه لاسلیک شو ، او د کوم په نتیجه کې چې د ملي یووالي حکومت را منځ ته شو ، د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر په میاشت کې به ، د ټاکنیزو اصلاحاتو ، پارلماني او د ولسوالیو د شورا ګانو د ټاکنو او د اساسي قانون د اصلاحاتو د تصویب په موخه د لوی جرګې په رابللو سره پای ومومي. په دې کې پخواني ولسمشر حامد کرزی او د افغانستان د حراست او ثبات د مخالفو شورا مخکښه غړی عمر داودزی شامل وو ، دواړو د لویې جرګې پر رابللو ټینګار درلود.

۶. د راپور ورکولو د مودې پر مهال یو شمیر عام لاریونونه ، کومو چې یو شمیر مخالف اشخاص ځان ته را مات کړل ، ترسره شو. د جولای پر ۲۲ ، د خوست په ولایت کې یوه لاریون چې د راپور سره سم څه نا څه ۷۰۰۰ لاریون کونکو پکې ګډون کړی وو ، د حکومت د منحل کیدو او د لوی جرګې د جوړیدو غوښتنه کوله څو یو نوی حکومت را منځ ته کړي. د جولای په ۲۳ ، قومي هزاره وو د کابل په ښار کې د برښنا د زیربنایی پروژې د لیرد پر وړاندې لاریون وکړ. کله چې لاریون د دوو ځانمرګو برید کوونکو لخوا په نښه شو ، او په نتیجه کې یې ۷۳ ملکیان ووژل شول او ۲۹۳ نور ټپیان شول ، د جولای د ۲۵ نېټې د خواخوږۍ مراسمو پخواني ولسمشر کرزی او یو شمیر پخواني دولتي چارواکي ځان ته را مات کړل. د لاریون ځای د هغو کسانو لپاره چا چې د حکومت پر وړاندې مظاهرې کولې د اجتماع د راغونډیدو په ځای بدل شو. د جولای په ۲۹ ، د ۲۳ نېټې د لاریون د مشرانو له خوا یو بیان خپور شو او ژمنه یې وکړه په هغه صورت کې چې د دوی غوښتنې و نه منلې شي دوی به نورو لاریونونو لاس پورې کړي.

۷. د حکومت د کار د ترسره کولو ، د امنیت د نه شتون او د دولتي ټاکنو او ګمارنو د مسلو په تړاو د جولای د ۲۷ څخه د اګست د میاشتې تر ۶ نېټې پورې په فریاب ، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې لاریونونه ترسره شو. د اګست په لومړۍ نېټه ، تاجک لړکیو فعالانو د مظاهرو د ترسره کولو او د سپټمبر په لومړۍ نېټه د یوه تاجک مشر ، څوک چې په ۱۹۲۹ کال کې د لنډې مودې لپاره په واک کې پاته شو ، د بیا خښولو د مراسمو د په لار اچولو ګواښ وکړ. دغو فعالانو د اجرائیه رییس ، د کورنیو چارو پخواني وزیر ، زرار احمد مقبیل عثماني او د بلخ د برحاله والي محمد عطا نور څخه ملاتړ ترلاسه کړ.

۸. هغه وسله والې ډلې کومې چې د دولتي چارواکو سره د تړاو ادعا کوي او کومې چې د هیواد په شمال کې د قدرت قوي بنسټونه لري ، په خاص ډول هغه ډلې کوم چې د ملي جنبش او اسلامي جمعیت د سیاسي ګوندونو سره خواخوږي لري ، په

دوامداره توګه د ناامني سره مرسته کوي. د جون په ۲۶ ، په فارياب ولايت کې د هغو مليشو له خوا د بشري حقونو د سرغړونو د ادعاوو په تعقيب چې ځانونه ملي جنبش ګوند ته خواخوږي ښيي ، ولسمشر غني د تحقيقاتو غوښتنه وکړه او د جنبش مشر ، لومړي مرستيال عبدالرشيد دوستم ته يې لارښونه وکړه څو خپل پوځې عمليات ودروي او کابل ښار ته ستون شي.

۹. د لوړې کچې د ټاکلو په برخه کې پرمختګ شوی. د جون په ۲۰ ، د ملي شورا ولسي جرګې د ملي امنيت د رياست د رييس په توګه د معصوم ستانکزي او د دفاع وزير په حيث د عبدالله خان حبيبي ټاکنې تائيد کړې او په دې سره يې د لومړي ځل لپاره د حکومت لپاره په امنيت د متمرکزې کابينې بشپړ فهرست برابر کړ. د کانونو او پطروليم د وزيرې ، د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواک رياست د رييس او د بلخ او نورستان د واليانو په ګډون ، موقفونه لا هم د سرپرستانو له خوا اداره کيږي.

۱۰. د لا ټولشموله ټاکلو د غوښتنو په غبرګون کې ، ولسمشر غني د ولسمشر يو شمير سلاکاران مقرر کړل. د جون په ۲۳ ، ولسمشر غني د پخواني ولسمشر کرزي د دورې د ښوونې او روزنې پخوانی وزير فاروق وردک د ولايتي چارو په اړه د مشر سلاکار او د جولای په ۲۸ ، محمد الماس ذاهد ، د پروان د ولايت څخه د پارلمان غړی ، د ملي پيوستون د چارو په اړه د مشر سلاکار په حيث وټاکل. د اګستې پر دوهمه ، په داسې حال کې چې د اګستې په ۹ ، د پخواني ولسمشر کرزي د دورې د ترانسپورت او ملکي هوانوردي پخوانی وزير حميداله فاروقي د کابل پوهنتون د رييس په توګه وټاکل شو ، ابو حسين ياسر ، د افغانستان د خلکو د اسلامي حرکت د سياسي ګوند مشر ، په عمومي توګه يو شعيه ، د امنيت په چارو کې د ولسمشر د سلاکار په توګه وټاکل شو. د اګستې په ۱۴ ، استاد عبداحليم چې د عبدالرسول سياف تر مشري لاندې د افغانستان د حراست او ثبات د شورا سره خواخوږي لري د قومي چارو په تړاو د ولسمشر د سلاکار په حيث وټاکل شو.

۱۱. لکه څنګه چې د ملي يووالي د حکومت د را منځ ته کيدو په تړون ليک کې يې يادونه شوې ، د ټاکنيزو اصلاحاتو په برخه کې زياتيدونکی پرمختګ شوی کوم چې به د راتلونکو ټاکنو څخه د مخه وي. له هغه وروسته چې د ملي شورا ګډ کميسيون د ټاکنيز مديريت د ارګانونو په تړاو د يوه فرمان په اړه چې د جون په ۱۳ د ولسي جرګې له خوا رد شو ی ، د ناراضايتي په له منځه وړلو و نه توانيد ، د جون په ۲۸ د مشرانو جرګې له خوا تائيد شو ، تقنيني ارګان د جولای په ۲۱ د دوبي په خپلو رخصتيو پيل وکړ. تر پوښتنې لاندې د فرمان د موقف په راتلو سره ، ولسمشر او اجرائيه رييس د جولای په ۱۴ د نړيوالي ټولنې د غړو سره وکتل او په خپلو ژمنو يې چې موخه يې د ټاکنيزو اصلاحاتو او د پارلماني او ولسواليو د شوراګانو د ټاکنو تر سره کول دي ، ټينګار وکړ. د جولای د ۳۱ نيټې په يوه ليک کې ، د نظارت لپاره د اساسي قانون د پلي کولو خپلواک کميسيون مشوره ورکړه چې حکومت کولای شي د تير کال د تقنيني مودې په ترڅ کې يو نوی فرمان پرته له دې چې ملي شورا ته يې و استوي صادر کړي. حکومت د فرمان د مسودې د جوړولو په اړه خپل کار ته دوام ورکړ ، خپرول يې کيدای شي ځينو ټاکنيزو اصلاحاتو او چمتوالي ته وده ورکړي.

۱۲. په داسې حال کې چې د طالبانو نوی مشر ، ملا هيبت الله اخوندزاده د خپل واک د پياوړي کولو په هڅو او جګړه ييزو عملياتو تمرکز کوي ، د راپور ورکولو په دوره کې د حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو احتمال ډير محدود پاته شوی. د مشرتابه د بدلون په تعقيب ، د طالبانو په حرکت کې د پام وړ مخالفت نه تر سترګو کيږي. د جولای په شپږمه د روژې مياشتې د پای ته رسيدو په مناسبت په وينا کې ولسمشر په طالبانو غږ وکړ څو د سولې او پخلاينې سره يو ځای شي. د جولای په ۱۴ د ولسمشر وياند وويل چې ، د افغان سولې او پخلاينې د بهير په اړه د څو اړخيزې همغږۍ د شپږمې ناستې لپاره چې په ترکيب کې يې افغانستان ، چين ، پاکستان او د امريکا متحده ايالتونه شامل دي ، کوم پلان نه لري. خو د دې سره د طالبانو يوه پلاوې د جولای په ۲۱ او ۲۲ د چين د چنګډو څخه ليدنه وکړه.

۱۳. د افغان حکومت او حکمتیار اسلامي ګوند تر منځ د راپور سره سم د داسې مسلو ، د بیلګې په توګه ، د نړیوالو ځواکونو د وتلو لپاره د مهالویش ، او د یادې ډلې لپاره د امنیت او سیاسي استازیتوب د تضمین برابرولو په موخه د سولې خبرې اترې ودریږدي. د جولای د ۳ نیټې په خپل اختریز پیغام کې د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار وویل چې د هغه جنګیالیو ته لارښوونه شوې چې یوازې د ځان د دفاع په برخه کې د افغان امنیتي ځواکونو په وړاندې عمل وکړي.

۱۴. د سولې عالي شورا د دې شورا د نوی جوړښت او ستراتیژۍ د جوړېدو په برخه کې کوم چې یادې شورا د اګسټ پر لومړۍ نیټه نړیوالې ټولنې ته وړاندې کړ ، پرمختګ کړی. د ښځو ، سولې او امنیت په اړه د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک د پلې کولو لپاره د حکومت له خوا د افغان ملي پلان د تطبیق د پر مخ بیولو په برخه کې ، د ښځو د سازمانونو په ګډون ، د مدنې ټولنې د استازو سره د افغانستان د سولې او پخلاینې د ستراتیژۍ د مسودې په اړه خبرې اترې ترسره شوې. تمویل کونکو موافقه وکړه چې د سپټمبر د میاشتې په پای کې د شورا لپاره موقته بسپنه تمدید کړي.

۱۵. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د راپور ورکولو د مودې پر مهال د سولې د محلي نوښتونو څخه د ملاتړ په موخه د یو شمیر پیښو لپاره د تسهیل چارې برابرې کړې. د جولای په ۲۰ ، د بغلان ولایت د پلخمري په ښار کې ، د ولایتي ادارې ، مدنې ټولنې او همداراز د ولسوالیو څخه دیني علماوو د سولې په هغه جرګه کې چې د یوناما په ملاتړ د ولایتي چارواکو له خوا دایره شوې وه ، ګډون وکړ. ګډونوالو پریکړه وکړه چې په خپلو ولسوالیو کې د سولې لپاره کار وکړي. د اګسټ پر نهمه ، یوناما د سولې په بهیر کې د ځوانانو د نقش په اړه د یوه سیمه ییز کنفرانس کوربه و ، چې د سمنګانو ، بلخ ، سر پل او جوزجان د ولایتونو څخه د ۴۰ ولسوالیو ځوانو استازو ګډون وکړ. ګډونوالو یوه اعلامیه تصویب کړه ، په حکومت او نړیواله ټولنه غږ کوي څو د سولې په بهیر کې ځوانانو ته برخه ورکړي او همداراز د ځوانانو ملي کنفرانس دایر کړي څو وکولای شي د سولې د نوښتونو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

**ب. امنیت**

۱۶. په داسې حال کې چې د طالبانو له خوا شدید عملیات دوام لري ، امنیتي وضعیت ډېر بې ثباته پاتې شوی. له هغه راهیسې د اپریل په ۱۲ ، د طالبانو حرکت خپل پسرلني عملیات پیل کړل ، وسله والې نښتې په لوړه کچه په دوامداره توګه واقع شوې. د راپور ورکولو په دوره کې ، د ولسوالیو د ادارې مرکزونو د نیولو د هڅو او د اکمالاتي کلیدي لارو د بندولو په شمول ، طالبانو په شمال شرقي سیمه کې ، د بغلان ، کندز او تخار په ولایتونو کې ، په شمالي سیمه کې د فاریاب او جوزجان په ولایتونو کې ، او په سهیلي سیمه کې د هلمند ، کندهار او اروزګان په ولایتونو کې د حکومت د کنترول د ننګولو په موخه خپل عملیات متمرکز کړل.

۱۷. د مۍ او جولای د میاشتو تر منځ ، د وسله والو نښتو شمیر د پخوانیو دریو میاشتو په پرتله ۱۴.۷ سلنه لوړ شوی ، دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۲۴ سلنه لوړ دی. د روژې په میاشت کې د جون د ۷ او د جولای د ۶ تر منځ د نسبي کمښت وروسته ، د جولای د ۱۹ را په دیخوا د لنډ وخت لپاره د (هلمند ولایت) د خانیشین او سنګین د ولسوالیو ، د (جوزجان ولایت) د قوش تپې د ولسوال ، د (بغلان ولایت) د دهن غوري د ولسوالۍ ، د کندز (ولایت) د دشت ارچي ، خان آباد او کلا زال د ولسوالیو او د (تخار ولایت) د خواجه غار د ولسوالۍ د ادارې مرکزونو په نیولو ، او د هلمند ولایت د مرکز لشرکګاه پر وړاندې دوامداره فشار له امله د طالبانو یرغل بیا تشدید شو. که څه هم د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د ډېری ولسوالیو د مرکزونو کنټرول بیرته ترلاسه کړ ، دا ځایونه ، په ځانګړې توګه په سهیل او شمال ختیځ کې تر پام وړ فشار لاندې پاته شوې.

۱۸. د مۍ د ۲۰ او د اګسټ د ۱۵ نیټو تر منځ ، ملګرو ملتونو د هیواد په کچه ټولټال ۵۹۹۶ امنیتي پیښې مستندې کړې دي چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۴.۷ سلنه لوړوالی او د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله ۳.۶ سلنه کموالی څرګندوي.

د مخکنیو رجحاناتو سره په سمون کې ، وسله والې نښتې د ۶. ۲۶ سلنې په درلودلو سره د اکثریت امنیتي پیښو مسول وې چې له هغه وروسته د ۳. ۱۷ سلنې په درلودلو سره تبعیه شوې چاودیدونکې توکې راځي. د راپور ورکولو د مودې پر مهال د ټولټال مستند شویو پیښو د ۱. ۶۸ سلنې په درلودلو سره ، ډیری امنیتي پیښې د هیواد په جنوبي ، جنوب شرقي او شرقي سیمو کې پیښې شوې دي. دولت ضد عناصرو همداراز خپلو ناڅاپه بریدونو ته دوام ورکړی څو د تښتونې ، ګواښونو او قتل له لارې اعمال نفوذ وکړي. په ټوله کې ، د مې د ۲۰ څخه د اګسټ تر ۱۵ نیټې پورې ، د ۴۰ ناکامو هڅو په شمول ، ټولټال ۲۶۸ وژنې مستندې شوې چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۲. ۶ سلنه کموالی ښیي. د دې سربیره ، د ۱۵ ډله ییزو تښتونو په شمول ، د راپور ورکولو د مودې پر مهال د هیواد په کچه د تښتونو ټولټال ۱۰۹ پیښې مستند شوې. د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله د ځانمرګو بریدونو کچه د ۲۶ هغو څخه ۱۷ هغو ته راټیټه شوې. د هزاره لاریون کونکو پر وړاندې د جولای د ۲۳ نیټې د برید په شمول د کوم مسولیت چې د اسلامي دولت خراسان څانګې/داعش ومانه ، په کابل کې د لوړې کچې بریدونو دوام وموند. طالبانو یاد برید وغانده. د اګسټ پر لومړۍ نیټه ، طالبانو د یوه نړیوالې ودانۍ /دفتر پر وړاندې چیرې چې بهرني قراردادیان اوسیدل مسولیت ومانه. په دې پیښه کې دری بریدګر او یو تن پولیس افسر ووژل شول.

۱۹. د جولای په ۸ او ۹ د پولنډ په وارسا کې د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناتو) په ناسته کې ، د ناتو سازمان غړو او د غوڅ ملاتړ ماموریت ونډې اخیستونکو د خپل موجوده جوړښت لاندې د ۲۰۱۶ کال ور ها خوا په افغانستان کې د ماموریت د دوامداره شتون په اړه تړون نهايي کړ. په ناسته کې ، ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبدالله ژمنه وکړه چې د افغانستان حکومت به د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د خپلو امنیتي ځواکونو مالي مسولیت پر غاړه واخلي ، د فساد سره د مبارزې او د ملکیانو د خوندیتوب په شمول به د اصلاحاتو د اجنډا پلې کولو ته دوام ورکړي. د ناتو سازمان غړو ، همداراز جاپان او د کوریا جمهوریت د ۲۰۲۰ کال تر پایه د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو لپاره د مالي مرستو د دوام په موخه د خپلو ژمنو تصدیق وکړ. افغان سیاسي مشرانو د ناستې د پایلو هرکلی وکړ. د جولای پر ۶ ، د متحده ایالتونو ولسمشر ، بارک اوباما خپله پرکړه اعلان کړه چې د ۲۰۱۷ کال تر جنوري پورې به په افغانستان کې د متحده ایالتونو ټولټال ۸۴۰۰ سرتیري وساتي او د هغه مخکنی پلان ځای یې ونیو چې غوښتل یې د ۲۰۱۶ کال تر پایه به ارقام ۵۵۰۰ سرتیرو ته را ټیټ کړي . په جون میاشت کې ، ولسمشر اوباما د ښکیلتیا په اصولو کې بدلون را منځ ته کړ چې د متحده ایالتو سرتیرو ته اجازه ورکوي څو افغان امنیتي ځواکونو ته لا ډیر مستقیم ملاتړ چمتو کړي او د طالبانو پر وړاندې د هوایي بریدونو د کارولو په شمول ، د هوایي بریدونو کارول پراخ کړي.

۲۰. افغان امنیتي ځواکونو د خپل هوایي ظرفیت د لا زیاتولو په برخه کې کم شانته پرمختګ کړی ، خو په کندز کې عملیاتو لا ډیر تاکتیکي نرمښت نندارې ته وړاندې کړ ، و یې ښوده چې له دې سره سره د قوماندې ، کنترول ، مشرتابه او لوجستیک په برخه کې د پام وړ نیمګړتیاووې موجودې دي. د جون له میاشتې راهیسې راپورونو د امنیتي ځواکونو په منځ کې مخ پر زیاتیدونکو تلفاتو ته اشاره کړې ، په خاص ډول هغه چې په جګړه کې وژل شوې. لوړو ارقامو ته په کتو ، د پایښت په اړه په دوامداره توګه پوښتنې مطرح کیږي. استخدام د هدف سره سم دی ، مګر بیا نوم لیکنه او ساتنه خورا ټیټه ده او اړتیا لیدله کیږي چې دا کچه لوړه شي تر څو د تلفاتو او د دندې د پریښودو/ترک خدمت له لارې د را منځ ته شویو زیانونو مخ ونیسي. په جولای کې ، د افغان ملي پوځ د سرتیرو کچه او د افغان ملي پولیسو شمیر په ترتیب سره ۶. ۸۶ او ۹۴ سنه وو. د افغان امنیتي ځواکونو د عملیاتي ظرفیت د پیاوړي کولو په موخه د روانو هڅو سربیره ، هغوي د بیا تحکیماتو لپاره په ځانګړو ځواکونو او نړیوالو پوځې ځواکونو تکیه کوي.

۲۱. د افغان امنیتي ځوانو او طالبانو تر منځ د شخړې سربیره ، د عراق او شام د اسلامي دولت د خراسان د ولایت د ډلې په شمول په افغان خاوره د نورو دولت ضد وسله والو ډلو سره شخړې دوام درلود. زما د وروستې راپور راهیسې ، افغان امنیتي ځواکونو د نړیوال پوځې ملاتړ په مرسته په ننګرهار ولایت کې د عراق او شام د اسلامي دولت د خراسان ولایت د ډلې پر وړاندې

ځمکني او هوايي عملیات تشدید کړي. د راپور سره سم ، د جولای په ۲۶ ، د دې ډلې د مشر حفیظ سعید د وژل کیدو په ګډون ، د دغو عملیاتو په نتیجه کې د عراق او شام د اسلامي دولت د خراسان ولایت ډلې جنګیالیو ته د پام وړ تلفات اوښتي چې په دې ولایت کې یې د یادې ډلې شتون لا را کم کړی. د عراق او شام د اسلامي دولت د خراسان ولایت د ډلې ځینې بې ځایه شوې جنګیالي د راپورونو له مخې کنړ ولایت ته تللي.

۲۲. د طالبانو د مشر هیبت الله اخوندزاده د مشرتابه د تحکیم او پیاوړتیا سره سره ، د جولای په لومړیو کې د هرات ولایت د شینډنډ په ولسوالۍ کې د دوو سیمه ییزو قوماندانانو تر منځ کوم چې د اخندزاده او ملا رسول سره خواخوږي لري وسله والې نښتې پیل شوې ، چې په نتیجه کې یې د طالبانو یو شمیر غړي ووژل شول او د اګست تر لومړیو یې دوام درلود.

۲۳. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې ، د ملګرو ملتونو پر وړاندې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه ټولټال ۱۴ پیښې ریکارډ شویدي. په دې کې د ګواښ شپږ او د جرمونو سره تړلې اووه پیښې شاملې وي د کومو له امله چې په عمده توګه د افغان کارکونکو غړي متاثره شوې.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

۲۴. زما د پخواني راپور راهیسې ، د طالبانو سره د سولې د خبرو لپاره محدودو لرلیدونو ، په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت او د پولو په اوږدو کې کشمکش د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې په دوامداره توګه متاثره کړې. پاکستاني چارواکي په طورخم کې د خپلو طرزالعملونو د پلي کولو په برخه کې ژمن پاته شوې ، او د جولای د لومړۍ نیټې راهیسې یوازې هغو افغانانو ته د تګ اجازه ورکوي کوم چې ویزې لري. د جون د ۱۲ څخه تر ۱۴ پورې ، له هغه وروسته چې پاکستان په سیمه کې د دروازې په جوړولو چې دواړه هیوادونه یې د ملکیت ادعا کوي پیل وکړ چې په نتیجه کې یې د پولو ځواکونو ډزې تبادله کړې. په ټوله کې ، څلور پوله ساتې ځواکونه ووژل شول او ۴۰ نور ټپیان شول چې له امله یې د طورخم دروازه وتړل شوه. د ډیپلوماتیکو هڅو د تبادلې وروسته ، دواړو هیوادونو د جون په ۱۵ اوربند اعلان کړ او د جون په ۲۴ یې د همغږۍ د لوړې کچې د میکانیزم په جوړولو هوکړه وکړه څو د پولې په اړدو کې د نښتو څخه مخنیوی وکړي چې د جولای په ۲۶ یې د کابل په ښار کې غونډه وکړه. کله چې پاکستان د اګست په لومړۍ نیټه د طورخم د اوښتو راوښتو په لار کې تعمیراتي چارې بشپړې کړې ، افغان حکومت دغه کارونه وغندل. د اګست د میاشتې په ۱۹ کړکیچ هغه وخت بیا مخ پر زیاتیدو شو ، چې کله پاکستاني چارواکو د کندهار په ولایت کې د چمن پوله د دې لپاره چې د افغان لاریون کونکو له خوا د دروازې پر وړاندې د بریدونو د مخنیوي په برخه کې افغان پوله ساتې ځواکونه پاته راغلل ، وتړله. په عین وخت کې ، سیاسي مخالفو اشخاصو او لاریونو کونکو د پاکستان په اړه په حکومت باندې د هغه د پالیسې په اړه فشار راوړ.

۲۵. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې ، د زیر بنا او نښلون د پروژو په اړه سیمه ییزې ښکیلتیا دوام درلود. د جون په څلورمه ، ولسمشر غني او د هند لومړي وزیر ، ښاغلي نریندره مودي د هند په مالي مرسته د سلما جوړ شوی بند پرانیست او ژمنه یې وکړه چې د هرات ښار به د ترانسپورټ په یوه سیمه ییز مرکز بدل کړي. د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي رشید میریدف د افغانستان څخه لیدنه وکړه څو د هرات- تورغوندي په ریل پټلۍ خبرې اترې وکړي او د آقینې- اندخوي د ریل پټلۍ لپاره مالي مرسته اعلان کړي. د جولای پر دوهمه او دریمه ، د افغانستان ولسمشر د سعودي عربستان څخه لیدنه وکړه او د سلمان بن عبدالعزیز السعود او د مرستیال ولیعهد او د دفاع وزیر ، محمد بن سلمان السعود سره یې وکتل.

۲۶. د مۍ په ۲۳ د هندوستان سره د درې اړخیزه تړون نه وروسته چې تمرکز یې د ایران پر چاه بهار بندر دی ، د راپور ورکولو د مودې په جریان کې ، د افغانستان او د ایران د اسلامي جمهوریت تر منځ بوختیاوې زیاتي شوې. د ایران اسلامي جمهوریت د

جولای په ۲۵ او ۲۶ په مشهد کې د افغانستان او ایران د اسلامي جمهوریت د سرحدي ولایتونو د ولایانو یوه غونډه راوبلله تر څو د یاد بندر په اړه د امنیت او د سوداګرۍ د نویو فرصتونو په اړه خبرې اترې وکړي. د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال ښاغلي حکمت کرزي د اګسټ پر دریمه د ایران څخه لیدنه وکړه تر څو د سوداګري ، زیربنا او د ایران په اسلامي جمهوریت کې د افغان وګړو په شتون خبرې اترې وکړي. د اګسټ په ۶ او ۷ د افغانستان د ملي امنیت مشاور ښاغلي حنیف اتمر د ایران د اسلامي جمهوریت څخه لیدنه وکړه تر څو د پولې پر امنیت او د تاوتریخوالي څخه ډک افراطیت سره د مبارزې په خاطر خبرې اترې وکړي. د یوې څلور کلنې وقفې وروسته ، د اګسټ پر ۱۰ په تهران کې د افغانستان- او ایران د اسلامي جمهوریت پنځم ګډ اقتصادي کمیسیون دایر شو.

۲۷. د افغانستان ، مرکزي اسیا د هیوادونو ، چین او فدراتیفې روسیې تر منځ د خبرو اترو په ترکیب کې امنیت او اقتصادي همکاري وه. په تاکشکند کې د شینګهای د همکاریو د سازمان په غونډه کې ، د جون په ۲۳ او ۲۴ ، د هیوادونو مشرانو د سیمې لپاره په افغانستان کې د سولې او ټیکاو پر اهمیت ټینګار وکړ. ولسمشر غني په سیمه کې په هیوادونو غږ وکړ تر څو د ترهګري سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان سره یو ځای شي او د سیمه ییزو همکاریو پر میکانیزمونو هوکړه وکړي. د افغانستان د ملي امنیت مشاور د جولای د ۲۵ څخه تر ۲۷ پورې د روسیې د فیدراتیف څخه لیدنه وکړه تر څو د ترهګري د ګواښ پر وړاندې او همداراز د امنیتي مرستو د همکاري په اړه خبرې اترې وکړي. نوموړي همدارنګه د اګسټ پر ۱۰ او ۱۲ د تاجکستان او قرغیزستان څخه لیدنه وکړه تر څو د امنیتي مسلو په اړه بحث وکړي.

۲۸. چین د څلور اړخیزې همکارۍ او همغږۍ یو میکانیزم په لاره واچاو ترڅو له ترهګرۍ سره چې افغانستان ، پاکستان او تاجکستان پکې دخیل دي مبارزه وکړي. د اګست پر ۳ مه د چین په کوربه توب په پرانیستونکې غونډه کې ، هیوادونو موافقه وکړه چې د سرحداتو د مدیریت په شمول ، د همغږي او د معلوماتو د شریکولو په برخه کې ډیروالی راولي.

**دریم: بشري حقونه**

۲۹. د جولای پر ۲۵ ، یوناما په افغانستان کې په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه خپل نیم کلن راپور خپور کړ چې د جنوري د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ نیټې پورې موده رانغاړي. یوناما ټولټال ۵۱۶۶ ملکي تلفات (۱۶۰۱ مړینې او ۳۵۶۵ ټپیان) مستند کړي چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۴ سلنه زیاتوالی ښیي. دا د ۲۰۰۹ کال راهیسې په یوه نیم کلن راپور کې د یوناما له خوا د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ ریکارډ شوې شمیر څرګندوي. د تلفاتو په شمیر کې ۵۰۷ ښځې شاملې دي ( ۱۳ مړینې او ۳۷۷ ټپیان) چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۱۱ سلنه کموالی ښیي. اساسا د ځمکنیو نښتو او ناچاودو توکو په نتیجه کې ، د ۱۸ سلنې ، یعني ۱۵۰۹ تلفاتو ( ۳۸۸ مړینو او ۱۱۲۱ ټپیانو) په درلودلو سره ، د ماشومانو په تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی. یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۶۰ سلنه دولت ضد عناصرو ، ۲۳ سلنه دولت پلوه ځواکونو ( د هغو له جملې څخه ۲۰ سلنه افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ، ۲ سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو او یوه سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو) او ۱۳ سلنه د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ډزو تبادلې ته چې کومې خاصې ډلې ته نه شي منسوبیدلای ، منسوب کړي. د ملکي تلفاتو څلور سلنه د جګړې څخه پاته شونو چاودیدونکو توکو ته منسوب شوې. ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی چې۱۹۷۲ ملکي تلفات (۴۵۹ مړینې او ۱۴۲۳ ټپیان) یې را منځ ته کړې چې په تعقیب یې ډله ییز او ځانمرګي بریدونه او ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي راځي. د راپور په غبرګون کې ، د ولسمشر دفتر یو بیان خپور کړ او په هغه کې یې د ملکي کسانو د ساتنې په ا ړه په خپله ژمنه ټینګار کړی او همداراز یادونه کوي چې د ملکي تلفاتو د راکمولو په اړه یې خپله ملي پالیسي نهایي کړې چې ژر به پلې شي.

۳۰. په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د طالبانو او دولت ضد عناصرو له خوا د لوړې کچې بریدونو او د ملکي کسانو پر وړاندې رهبري شویو بریدونو دوام موندلی. د جون په ۲۰ ، طالبانو د هغه ځانمرګي برید مسولیت ومانه چې یوه نقلیه وسیله کومې چې د کابل په ښار کې شخصي امنیتي قراردادیان لیږدول په نښه کړه چې په نتیجه کې یې ۱۵ ملکیان ووژل شول او ۷ تنه نور ټپیان کړل. د جون په ۳۰ ، د کابل په ښار کې د یوه کاروان پر وړاندې چې د افغان ملي پولیسو زده کړیالان یې لیږدول ځانمرګی برید ترسره شو چې په نتیجه کې یې ۳۴ ملکیان ووژل شول او ۷۹ نور ټپیا ن شول. طالبانو د پیښې مسولیت په غاړه واخیست.

۳۱. د اپریل د ۱ او د جون د ۳۰ تر منځ ، د څارنې او راپور ورکولو په اړه د هیواد کاري ځواک ټولټال ۳۹۹ پیښې ثبت او تصدیق کړې د کومو په نتیجه کې چې ۲۱۳ ماشومان (۱۵۰ هلکان ، ۶۰ نجونې او درې نامعلوم) وژل شوې او ټولټال ۶۰۰ نور (۳۹۵ هلکان ، ۲۰۳ نجونې او دوه نا معلوم) ټپي شوي. د ټولټال ۴۳۶ تلفاتو (د ټولو تلفاتو ۵۴ سلنه) په درلودلو سره ، ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی ، د ماشومانو د ۱۲۳ تلفاتو (د ټولو تلفاتو ۱۵ سلنه ) په درلودلو سره ، بیا ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي راځي. د ۹۵ تلفاتو په درلودلو سره ، د ( ټولو ملکي تلفاتو ۱۲ سلنه) د ماشومانو د تلفاتو تر ټولو مخکښه دریم لامل د جګړې څخه پاته شونې چاودیدونکي توکي و. افغان ملي پوځ ته د ۴۲ منسوب شویو او نړیوالو پوځې ځواکونو ته د ۹ منسوب شویو تلفاتو په شمول ، د هوایي بریدونو په نتیجه کې د ماشومانو ۵۱ تلفات را منځ ته شوي ، (د ټولو تلفاتو ۱۲ سلنه). د هدفي وژنو ، ځانمرګي او ډله ییزو وژنو په شمول ، کاري ځواک د ماشومانو ۱۰۸ پاته تلفات یو شمیر تاکتیکونو ته منسوب کړي.

۳۲. د ۲۱۲ تلفاتو په شمول چې طالبانو منسوب شوې ، کاري ځواک د ماشومانو زیاتره تلفات ( ۳۹ سلنه) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي ، چې ور پسې بیا دولت پلوه ځواکونو راځي چاته چې (د ماشومانو ۳۶ سلنه تلفات) منسوب شوې. د ماشومانو څلور تلفات د پولې په اوږدو کې د پاکستاني پوځې ځواکونو ډزو ته منسوب شوې. پاته ټولټال ۲۰۳ تلفات د شخړې کومې ډلې ته نه شي منسوبیدلای. د پاته سرغړونو له جملې څخه ، ملګرو ملتونو د تعلیمي مرکزونو د په نښه کولو اووه پیښې ، د روغتیایي مرکزونو د په نښه کولو اته پیښې ، د هلک د تېښتونې یوه پیښه او د بشر پالنې د لاسرسي څخه د انکار څلور پیښې تایید کړې. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې ، ملګرو ملتونو د بدخشان په ولایت کې د طالبانو له خوا په شخړه کې د ماشومانو د پراخې کارونې په اړه راپورونه تر لاسه کړې. د پایلې په توګه ، د راپورونو له مخې له ټولټال تر ۱۰۰ او ۱۲۰ کورنیو پورې دغه سیمه پرایښوده ، او ویره یې څرګنده کړې چې طالبان د تګ د یوه لامل په حیث د دوې ماشومان په لیکو کې استخداموي. د جون څخه تر اګست پورې ، د کورنیو چارو وزارت د بامیانو ، سرپل ، جوزجانو ، سمنګانو ، کنړ او لغمان د ولایتونو د پولیسو د استخدام په مرکزونو کې د ماشومانو د ساتنې شپږ نوې مرکزونه پرانیستي دي ، چې په دې سره د هیواد په کچه د دغه ډول مرکزونو شمیر ۱۳ ته رسیږي.

۳۳. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې ، د کورنیو چارو او ښوونې او روزنې وزارتونو او د ملي امنیت ریاست د ماشومانو د ساتنې د ښه کولو په موخه لارښودونه صادر کړې. د جون په ۱۸ ، د کورنیو چارو وزارت یو داسې لارښود خپور کړ چې د رسنیو له لارې د ملي امنیت په تور د نیول شویو ماشومانو ښکاره کول منع کوي. د جون په څلورمه او د جولای په څلورمه ، د ښوونې او روزنې وزارت د امنیت په تړاو ټولو وزارتونو ته دوه لارښودونه ولیږل او په هغو کې یې د خوندي ښوونځیو د اعلامیې په اړه د افغانستان ژمنتیا روښانه کوي او د امنیتي ځواکونو څخه غوښتنه کوي څو د پوځې موخو لپاره د ښوونځیو څخه کار وا نه خلي. د جولای په دوهمه ، د ملي امنیت ریاست یو لارښود خپور کړ چې موخه یې کابل ښار ته څیرمه د پروان په ولایت کې په کلکو امنیتي تدابیرو د سمبال د توقیف ځای په شمول ، د لویانو د توقیف مرکزونو څخه د ماشومانو د لیږد مخنیوی دی او همدارنګه د لویانو د توقیف مرکزونو څخه د ماشومانو د خلاصون لپاره د اسانتیاوو برابرول دي.

۳۴. حکومت د ښځو او نجونو پر وړاندې د خشونت د ځوابولو په موخه خپلو هڅو ته دوام ورکړی. د جون په ۱۱ ، حکومت د ۲۰۱۶-۲۰۲۰ کلونو لپاره د ښځو پر وړاندې د خشونت د مخنیوي په اړه ستراتیژۍ ا و د عمل پلان تصویب کړ. د جولای په ۲۶ ، د غزني په ښار کې د ښځو د چارو د ریاست په رییس نامعلومو بریدګرو برید وکړ.

۳۵. د جولای په ۱۷ ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ماشومانو د ودونو په اړه خپل کلنی راپور نشر کړ چې د ۲۰۱۵ کال د مارچ او ۲۰۱۶ کال د مارچ تر منځ موده کې د نجونو د ودونو ټولټال ۲۳۵ پیښې مستند کړې. دا د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۴ سلنه زیاتوالی ښیي. دغه راپور د نجونو د ساتنې لپاره د موجوده حقوقي چوکاټ سره په سمون کې د یو لړ اصلاحي عملونو وړاندیز کوي.

۳۶. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې ، یوناما په ترتیب سره د جولای په ۱۶ او د اګسټ په ۱ نیټه د هیواد په شمال کې د سمنګانو او سر پل په ولایتونو کې د دولت ضد عناصرو له خوا په "اخلاقي جرمونو" د تورنو دوو میرمنو اعدامونه مستند کړي. په جون کې د تخار په ولایت کې ، د دولت ضد عناصرو له خوا په یوه هڅه د یوې ښځې د سنګسار څخه د سپین ږیرو له خوا د منځګړیتوب په پایله کې مخنیوی وشو. د ۲۰۱۶ کال له پیل راهیسې ، یوناما د موازي عدلي سزاګانو ۷ پیښې مستندې کړې چې په نتیجه کې یې د دولت ضد عناصرو له خوا څلور ښځې اعدام او دریو ښځو ته په فزیکي ډول سزاګانې ورکړل شوې.

۳۷. ملګرو ملتونو د ښځو د حقونو د پوهاوي لوړولو او د ښځو لپاره د مستقیم ملاتړ د خدمتونو برابرولو ته دوام ورکړی. د جولای د ۲۰ څخه د اګسټ تر لسمې پورې ، ملګرو ملتونو د بغلان ، هرات ، خوست ، پکتیکا او زابل په ولایتونو کې د ښځو د حقونو په اړه خبرې اترې تنظیم کړې ، د ۱۸۰ ښځو او د تلویزیون له لارې د خبرو اترو په شمول ، تر ۳۰۰ څخه زیات افغانان تر پوښښ لاندې نیولي. ملګرو ملتونو په ۱۳ ولایتونو کې د کورني تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره د ښځو د ساتنې د ۱۱ مرکزونو او د کورنۍ د لارښود د پنځو مرکزونه د ملاتړ چارو ته دوام ورکړی. د جنډر د برابري او د ښځو د پیاوړتیا لپاره د ملګرو ملتونو د نهاد د عمومي منشي د مرستیال / اجرائیوي رییس ، Phumzile Mlambo-Ngcuka ، د جولای د ۱۸ څخه د جولای تر ۲۱ پورې د کابل ښار څخه لیدنه وکړه او د ولسمشر او اجرائیه رییس سره یې ولیدل.

۳۸. د جون په ۱۵ ، د ملي شورا پورته خونې یا مشرانو جرګې د کښته خونې یا ولسي جرګې له خوا د مخه نیونکي توقیف په اړه د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر د دوهمې نیټې د ولسمشر فرمان ، چې د مخه رد شوی و تصویب کړ چې د ټاکلې موعد او ازادي حواله ورکوي چې د اساسي قانون په واسطه خوندي شوی. د ولسمشر د فرمان نورې برخې تصویب شوې ، د هغو مقررو په شمول چې د انفرادي کسانو لپاره چې د امنیت سره د اړوندو جرمونو په خاطر نیول شوي د وخت څخه د مخه توقیف موده غځوي.

۳۹. د عدلیې وزارت له خوا د یوې غوښتنې په غبرګون کې ، یوناما د ملګرو ملتونو د قاعدو سره په سمون کې د هغو ژټکیو د ساتنې لپاره چې د خپلو ازادیو څخه محروم شوي ، (هاوانا قواعد) ، د هیواد په کچه د ژټکیو د اصلاح مرکزونو ارزونه بشپړه کړې. که څه هم چې د تیرې لسیزې په ترڅ کې پرمختګ شوی ، په راپور کې دې ته اشاره شوې چې لا زیاتو پرمختګونو ته اړتیا لیدله کیږي ، د بیلګې په توګه ، د ژټکیو د اصلاح مرکزونو د شمیر زیاتوالی.

**څلورم: د کابل پروسې تطبیق او د پرمختیایي مرستو همغږي**

۴۰. افغانستان ، د نورو شیانو تر څنګ ، د ۲۰۱۴ کال د لیږد د بهیر او د سوکه اقتصادي ودې له امله په دوامداره توګه د یو لړ ننګونو سره مخ و. د ناټو د سازمان په پورته یاده شوې غونډه کې چې د جولای په میاشت کې په وارسا کې ترسره شوه ، بسپنه ورکونکو د امنیتي سکټور سره خپلې ژمنې بیا تازه کړې ، خو د ۲۰۱۲ کال راهیسې د نړیوال بانک او نړیوال وجهي صندوق

تحلیلونو په دوامداره توګه تاکید کړی چې د وخت په تیریدو سره به د افغانستان د امنیت لګښتونه ناپایداره شي ، نو د اقتصادي ودې او د لګښتونو د راکمولو او ادغام په نتیجه کې باید عواید زیات شي ، په ځانګړي توګه په امنیتي سکتور کې.

۴۱. د جولای په ۲۰ ، د نړیوال وجهي صندوق اجرائیوي بورډ د افغانستان لپاره د ۴۵ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت د کریډیټ د اسانتیاوو د تنظیم یو دریم کلن پراخ پلان تصویب کړ. د دې اسانتیا لاندې د اقتصادي پروګرام موخه د اضافي بسپنه ورکونکو د تسریع کولو د چارو سره مرسته او همدارنګه د اقتصادي ودې لپاره د ملي پالیسي ګانو لپاره د ملاتړ برابرول دي. له هغه وروسته چې د جون په ۲۲ پارلمان د تړون الحاق تصویب کړ ، افغانستان د جولای په ۲۹ د سوداګرۍ د نړیوال سازمان بشپړ غړیتوب ترلاسه کړ.

۴۲. د افغانستان د سولې او پراختیا د ملي چوکاټ د دوهمې مسودې په خپرولو سره چې د جولای په ۳۰ د پراختیایي همکارانو د نظر او تبصرو ورکولو په موخه خپره شوه ، د افغانستان په اړه د بروکسل د کنفرانس لپاره د حکومت چمتوالي دوام درلود. د هغوي تبصرې د لوی اقتصاد د وړاندوینو ، سکټوري لومړیتوبونو او د حکومت په پراختیایي پروګرامونو کې د وګړو د بې ځایه کیدنې د مسلې د ځوابولو د اهمیت په شمول په مسلو متمرکزې وې. حکومت ژمن دی چې د سپتمبر په ۴ د چوکاټ بشپړه مسوده د همغږۍ او نظارت د ګډ بورډ په ځانګړې ناسته کې وړاندې کړي.

۴۳. د بروکسل د کنفرانس څخه وړاندې د تمویل کونکو استازو لپاره ، د خدمتونو ، کرنې ، ښاري پراختیا ، د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا او زیربنا د رسولو لپاره د ولسي تړون د موډل په شمول ، حکومت په اکسټ میاشت کې د سکټوري پراختیایي پلانونو په مقدماتي وړاندې کولو /پریزنټیشن پیل وکړ. د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ کلونو لپاره د حساب ورکونې د دوه اړخیزه چوکاټ له لارې د ځان بسیاینې لاندې د تحویل وړ شیانو د تازه کولو لپاره د حکومت د وړاندیزونو په اړه خبرو اترو دوام درلود. د حکومت او پراختیایي شریکبانو دواړو موخه د دې یقیني کول و چې د تحویل وړ شیان په روښانه د افغانستان د سولې او پراختیا د ملي چوکاټ سره ونښلوي. د جولای په ۳۱ ، د مدني ټولنو شبکو په مرکزي او سیمه ییزه کچه د سلامشورو یوه لړۍ پیل کړه څو اندیښنې جوتې کړي او د بروکسل د کنفرانس لپاره دریځ وړاندې کړي.

۴۴. حکومت د فساد پر وړاندې د مبارزې د خپلې اجنډا د پلي کولو لپاره هڅې زیاتي کړې. حکومت د فساد د دوسیو سره د معامله کولو په موخه د خاصي محکمې ، د فساد پر وړاندې د جنایي عدلي مرکز د را منځ ته کولو په هدف د جون په ۳۰ یو فرمان صادر کړ . د جولای پر ۲۸ ، ولسمشر د حکومتولي ، عدالت او اداري فساد په اړه د عالي شورا د لومړۍ ناستې مشری وکړه. په ناسته کې ، عالي شورا د سترې محکمې هغه وړاندیزونه چې د یاد مرکز د محاکمو د داخلي صلاحیت او قلمرو په تړاو و ، تصویب کړل او ممکن هغو ټولو ولایتونو ته چیرې د فساد په سترو دوسیو کې فساد شوی ، او په کومو کې چې لوړ رتبه چارواکي ښکیل وي یا لږ تر لږه د پنځو میلیون افغانیو په ارزښت مالي زیانونه اوښتي وي ، وغځیږي (اټکل ۷۳۰۰۰ امریکایي ډالره).

۴۵. د ځمکې د اصلاحاتو په بهیر کې پرمختګونه راپور شوي. د جولای په ۱۲ ، د افغانستان د ځمکو د ادارې لوی اجرایوي آفسر اعلان وکړ چې د شخصي پانګه والو لپاره د دولتي ځمکو د اجارې د تصویب بهیر د ۵۲ اداري مرحلو څخه ۹ هغو ته را ټیټ شوی دي. د یوې پایلې په حیث ، د پروسس کولو وخت له میاشتو څخه اونیو ته راټیټ شو ، د ځمکو د اجارې عایدات د ۱۴۰۰۰۰ امریکایي ډالرو څخه ۳.۴ میلیون امریکایي ډالرو ته لوړ شو. د یوناما راپور ، د " اوبو حقونه : د افغانستان د حقوقي چوکاټ ارزونه چې د کرنې لپاره اوبه اداره کوي" چې د شخړو د هوارولو د میکانیزمونو لپاره وړاندیزونه لري ، د انرژۍ او اوبو او د کرنې ، اوبو لګونې او مالدارۍ د وزارتونو سره شریک کړای شو.

۴۶.  د سیمه ییزې حکومتدارۍ د پالیسۍ بیا کتنه ، چې د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ له لارې د ځان بسیاینې لاندې د حکومت د لندمهاله ژمو څخه یوه ده ، دوام درلود. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې ، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په ۳۰ هغو کې د سیمه ییزې حکومتولي د بیا کتل شوې مسودې په اړه د ولایتي سلامشورو یوه لړۍ په لار واچوله. مخکې له دې چې بیا کتل شوې مسوده ولسمشر او کابینې ته د تصویب لپاره واستول شي ، باید د خبرو اترو په موخه اړوندو وزارتونو ، مدني ټولنې ، او نړیوالو همکارانو ته وړاندې شي. حکومت همداراز د عامه خدمتونو د اصلاح د خپلې اجنډا پلي کولو ته هم دوام ورکړ. ولسمشر د اګسټ په میاشت کې د سیالیو له لارې شپږ ښاروالان وټاکل چې په دې سره یې په ۲۰۱۶ کال کې د سیالیو له لارې د ۳۳ ښاروالانو له جملې څخه ۲۱ هغو ته یا په ټوله کې ۱۵۴ هغو ته شمیر اوچت کړ.

۴۷.  حکومت د افغان ملي پولیسو د مسلکي کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې د کورنیو چارو د وزارت چارواکو د نړیوالي ټولنې او یوناما په ملاتړ د وزارت د ستراتیژیک پلان د پیاوړي کولو لپاره کار وکړ. د جولای په ۳۱ ، د پولیسو د همغږۍ نړیوال بورډ د پولیسو د مشرتابه ، روزنې ، قوماندې او کنټرول ، او د پروګرام د پلي کولو د ځارنې او ارزونې په برخو کې د کلیدي تشو د لرې کولو لپاره د تفصیلي عمل پلان طرحه تصویب کړه. ملګرو ملتونو د جنډر حساس امنیتي سکټور د اصلاحاتو د ودې په موخه د تخنیکي ملاتړ چمتو کولو ته دوام ورکړ. د مې او جون په میاشتو کې ، یوناما د افغان ملي پولیسو له ۳۱۴ ښځینه غړو سره ، چې د ښځینه پولیسو د قول اردو ګانو د څه نا څه ۱۰ سلنې څخه استازیتوب کوي ، او همدارنګه د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په ۱۹ هغو کې د ملي پولیسو د چارواکو سره ولیدل څو هلته پرمختګ وارزوي. د ښځینه پولیسو افسرانو د ساتنې په برخه کې ، په خاص ډول په کار ځای کې د ځورونې په حواله او د ولسوالیو په کچه د جنډر د پالیسي ګانو د تطبیق په اړه تشې جوتې شوې. د جولای په ۱۱ ، د کورنیو چارو وزات د شکایتونو یو میکانیزم را منځ ته کړ ترڅو د ښځینه پولیسو پر وړاندې د جنسي ځورونې څخه مخنیوی وکړي او هغه ته ځواب ووایي. د دې لپاره چې د ښځینه پولیسو افسرانو شمیر زیات شي ، د کورنیو چارو وزارت د افغان ملي پولیسو د ښځینه ۹۱ غړو لپاره په ترکیه کې روزنې برابرې کړې.

**پنځم. بشري مرستې**

۴۸.  بشری وضعیت د اندیښنې وړ پاتې شوی ، د پام وړ نویو شخړو په درلودلو سره چې د داخلي بې ځایه کیدنې له امله را منځ ته کیږي داخلي بې ځایه کیدنې د لاسرسي د دوامدارو ننګونو په واسطه تشدید کیږي. د کلیوالي ټولنو زیانمنتوب د بې ځایه کیدنې سره ، د خوارځواکۍ لوړې کچې او روغتیا پالنې ته د محدود لاسرسی له امله نور هم سخت شوی.

۴۹.  د اګسټ تر ۱۴ ، ملګرو ملتونو د ۲۰۱۶ کال کې د جنوري د میاشتې راهیسې د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په ۲۹ هغو کې ټولټال ۲۱۱۲۴۶ نوي بې ځایه شوي کسان ثبت کړي دي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۶.۶ سلنه کموالی ښیي. د جون د میاشتې د پیل راهیسې ، نږدې ۴۸۰۶۸ کسان نوي بې ځایه شوي دي. د نویو بې ځایه شویو کسانو نیمایي برخه د بدخشان ، هلمند او تخار په دریو ولایتونو کې بې ځایه شوي دي. د ننګرهار په ولایت کې ، د داعش پر وړاندې د حکومت او نړیوالو ځواکونو د هوایي عملیاتو د زیاتوالي له امله د تیرو دوو میاشتو په ترڅ کې ۳۳۰۶ کسان بې ځایه شوي دي. د هلمند په ولایت کې ، د ولایتي پلازمیینې لشکرګاه په شاخوا کې د جګړو د تشدید له امله ۱۵۰۰۰ کسان تر دې دمه بې ځایه شوي دي. ملګرو ملتونو او غیر دولتي سازمانونو د بې ځایه شویو کسانو سره د نقدو پیسو ، خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې کړې دي. د بې ځایه کیدنې د کره ارقامو د معلوموولو په برخه کې د لاسرسي په برخه کې محدودیتونو او ستونزو د بشر پالنې د غبرګون چارې په دوامداره توګه د خنډ سره مخ کړې.

۵۰. د جنوري او جون د میاشتو تر منځ د کډوالو د راستنیدني د خورا ټیټې کچې د پاتې کیدو وروسته ، د جولای د میاشتې راهیسې د ملګرو ملتونو د په خپلې خوښې د راستندنې د پروګرام له لارې د کډوالو د راستنیدنې په شمیر کې زیاتوالی راغلی. د جون تر ۳۰ پورې ، د پاکستان څخه د ۶۸۷۵ او د ایران د اسلامي جمهوریت څخه د ۸۵۲ کډوالو په شمول ، ټولټال ۷۸۰۴ کډوال هیواد ته ستانه شوي دي. د جولای د لومړۍ نیټې څخه راهیسې په لومړنیو ۶ اونیو کې د راستنیدونکو ارقام ، په خاص ډول هغه کسان چې د پاکستان څخه هیواد ته ستانه شوي ، ۴۵۰ سلنه زیات شوي. د اګسټ تر ۱۵ پورې ، په داسې حال کې چې د ایران د اسلامي جمهوریت څخه ۱۵۶۰ او د نورو هیوادونو څخه ۱۰۰ تنه هیواد ته ستانه شوي ، د ۲۰۰۲ کال راهیسې د خپلې خوښې د راستنیدنې د پروګرام له لارې ټولټال ۴۲۴۷۲ افغانان هیواد ته ستانه شوي. دا زیاتوالی د ملګرو ملتونو له خوا د ښه شوې ادغام مرستو ، د ۱۵۰ امریکایي ډالرو څخه ۳۵۰ امریکایي ډالرو ته د انفرادي بیرته ستنیدو د وړیا مرستې لوړیدو او همداراز د ۲۰۱۶ کال د پای ته رسیدو څخه وروسته په پاکستان کې د افغان کډوالو د وضعیت په اړه بې باورۍ او د کوربه ټولنو او محلي چارواکو له خوا د منلو ټیټې کچې ته منسوبیږي.

۵۲. په داسې حال کې چې د ایران د اسلامي جمهوریت څخه د کډوالو ستنیدنه سوکه و ، د کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله د جولای د لومړۍ نیټې څخه د پاکستان څخه د نه راجستر شویو افغانانو د شړلو او راستنیدلو په لړۍ کې د پام وړ زیاتوالی راغلی. د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ، د جنوري د لومړي او د جون د میاشتې د ۳۰ نیټې تر منځ د پاکستان او ایران د اسلامي جمهوریت څخه د نه راجستر شویو افغانانو د شړلو او ستنیدلو په شمیر کې ۲۵ سلنه کموالی راغلی. په ټولټال ۲۵۳۰۴۱ نا راجستر شویو افغانانو کې ۱۳۸۷۶۸ په خپله خوښه راستنیدونکي (د ایران د اسلامي جمهوریت څخه ۱۱۶۱۲۳ او د پاکستان څخه ۲۲۶۴۵) او ۱۱۴۲۷۳ شړل شوي (د ایران د اسلامي جمهوریت څخه ۹۹۶۴۹ او د پاکستان څخه ۱۴۶۲۴) شامل دي. په جولای کې د پاکستان څخه د ټولټال ۲۹۱۳۵ ستنه شویو او شړل شویو او د اګسټ د میاشتې په لومړیو دوو اونیو کې د ۳۵۰۰۰ په درلودلو سره ، د جولای د میاشتې راهیسې شمیر لوړ شوی. بیرته راستنیدونکو په پاکستان کې د دوي د وضعیت په اړه د پولیسو د زیاتوالي او بې باورۍ ، او همدارنګه د پاکستان څخه د ایستلو د ویرې په شمول د پرېښودلو د اصلي لاملونو په توګه یادونه کړې.

۵۳. د جون په ۲۹ ، د پاکستان حکومت د افغان کډوالو د پیژندپاڼو د اتبار موده یو ورځ وړاندې له هغه چې پای ته ورسیږي ،د ۲۰۱۶ کال تر پایه وغځوله. د جولای په ۱۹ په اسلام اباد کې د درې اړخیزه کمیسیون ناسته ، د افغانستان ، پاکستان او ملګرو ملتونو درې اړخیزه تړون چې په پاکستان کې د افغان وګړو د ستنیدو واک لري ، تمدید شو. دریو واړو ډلو په خپلو ژمنو بیا تاکید وکړ څو د هغو افغانانو لپاره چې په پاکستان کې اوسیږي پایدارې حل لارې ومومي او د خوندي او له وقار څخه ډکې په خپلې خوښې ستنیدنې په وضعیت کې د هغوي سره مرسته وکړي.

۵۴. اروپا ته د افغانانو مهاجرت د ۲۰۱۵ کال په پرتله په کم سرعت سره دوام وموند. د کال د پیل راهیسې ، ټولټال ۴۴۶۹۹ افغانان د سمندر له لارې اروپا ته رسیدلي چې دا ۱۷ سلنه رسیدنې څرګندوي چې دا ارقام په جون میاشت کې ۲۱ سلنه وه. په ۲۰۱۵ کال کې په ورته موده کې د ۷۶۴ په خپله خوښه ستنیدونکو په پرتله ، د مهاجرت نړیوال سازمان د جنوري او جولای د میاشتو تر منځ د اروپا څخه د ټولټال ۴۵۲۷ په خپله خوښه راستنیدونکو سره مرستې کړې. که څه هم چې د یونان او ترکیې څخه زیات شمیر راپور شوی ، د ستنیدونکو نږدې نیمایي برخه د المان څخه هیواد ته راغلي وو. زیاتره د هرات او بلخ ولایتونو او کابل ښار ته ستانه شوي. د لومړۍ ربع په جریان کې د ټولټال ۱۴۰۰ په پرتله ، د کال د دوهمې ربعې په جریان کې ، د ستنیدونکو شمیر په لوړیدو و او د ټولټال ۲۶۳۹ هغو سره مرستې شوې.

.۵۵ هغه هڅې چې موخه يې په افغانستان کې د ګوزڼ له منځه وړل دي ، چې لا هم په افغانستان کې شتون لري ، د له لاسرسي او امنيت د ننګونو سره مخ شوې. د راپور ورکولو د مودې په جريان کې د کنړ په ولايت کې د ګوزڼ يوه پيښه ثبت شوې چې له دې سره په افغانستان کې په ۲۰۱۶ کال کې د ګوزڼ د ناروغۍ پيښې شپږو هغو ته لوړوي. د راپور ورکولو د مودې پر مهال د هغو ماشومانو شمير چې نه دي واکسين شوي د مخکنۍ مودې د ۲۰۰۰۰۰ په پرتله ، ۳۲۰۰۰۰ ته لوړ شوي. په دې کې په کندز ولايت کې چيرې چې جګړه روانه وه اټکل ۱۵۷۸۵۷ ماشومان او په ننګرهار ولايت کې چيرې چې دولت ضد عناصرو د لاسرسي څخه مخه نيولي ، ۷۶۲۸۴ ماشومان شامل دي. په داسې حال کې چې د کندهار او هلمند د ولايتونو په شمول ، په يو شمير کليدي ولايتونو کې د واکسين د کمپاينونو د مخنيوي په اړه ګواښونو دوام درلود ، د فراه ، هلمند او فراه په ولايتونو کې د واکسينونو د کمپاينونو ښه ارزونه د ناامنيو له امله محدوده پاته شوې.

.۵۶ د بشري لاسرسي محدوديتونه د ملګرو ملتونو د نړيوال نظارت د چوکاټونو لاندې په دوامداره توګه ثبت شوي ، چې اساسا د هيواد په ختيځو ، سويلي او شمالي برخو کې د ناامنۍ سره تړاو لري. په ټوله کې ، د کال د لومړيو څلورو مياشتو په ترځ کې د ۷۵ پيښو په پرتله ، د نادولتي سازمانونو ، ملګرو ملتونو او نورو نړيوالو سازمانونو پر وړاندې د مۍ د لومړۍ او د جولای د ۳۱ تر منځ ۴۵ پيښې راجستر شوي. د مخکنۍ مودې په جريان کې د مړينو د پنځو او د ټپي کيدو د لسو پيښو په پرتله ، د راپور ورکولو د مودې په جريان کې پنځه مرستندويه کارکونکي وژل شوي او پنځه ټپي شوي دي. په ۲۰۱۶ کال کې د ۳۹ مرستندويه کارکونکو په تښتولو سره ، تر دې نيټې پورې د کال لپاره تښتونې د ۲۰۱۵ کال رجحانات منعکسوي. د ۲۰۱۶ کال د څلورو لومړنيو مياشتو په جريان کې د مرستندويه کارکونکو د ۸۱ تښتونو په پرتله ، د مرستندويه کارکونکو د ۱۲ هغو د تښتونو په درلودلو سره ، د مۍ د لومړۍ نيټې څخه د جولای تر ۳۱ پورې موده چټک کمښت ښيي.

.۵۷ د ماين پاکۍ همکارانو د ملګرو ملتونو په همغږۍ د مۍ د لومړۍ نيټې څخه د جولای د ۳۱ هغې تر منځ په ماينونو ۳۹ ککړې سيمې ، د جګړې يو ډګر او د ډزو درى تمرين ځايونه د ماينونو د خطر څخه پاک کړي چې په ټوله کې ۱۲ ټولنې د ماينونو د خطر څخه پاکې شوې. د ځای پر ځای شويو فشاري آلو د را منځ ته شوې کواښ تر څنګ ، اټکل کيږي چې د ماينونو ۴۰۰۵ سيمې ، د جګړې ۳۳۰ ډګرونه او د ډزو ۶۲ تمرين ځايونه لاهم په ماينونو ککړ دي چې ټولټال ۱۵۸۹ ټولنې متاثره کوي.

.۵۸ د اګسټ د مياشتې تر ۱۰ نيټې پورې ، د افغانستان لپاره د بشري مرستو ټوله اندازه ۲۷۷ ميليونه ډالره وه ، چې له دې جملې څخه ۱۲۲ ميليونه ډالره د افغانستان د بشري غبرګون د ۲۰۱۶ کال د پلان او ۱۵۷ ميليون ډالره د نړيوال سره صليب او سرې مياشتې د ټولنې لپاره په پام کې نيول شويو فعاليتونو لپاره اختصاص شوې وي. د اګسټ د مياشتې تر لسمې نيټې پورې ، د ۲۰۱۶ کال پلان ۱۳ سلنه تمويل شوی وه. د بيړنۍ روغتيايي پاملرنې ، د بې ځايه شويو کورنيو سره د مرستې او د بشري ارزونو په اړه د مالي مرستو د تمرکز کولو په واسطه ، په ۲۰۱۶ کال کې تر دې دمه په افغانستان کې بشردوستانه وجهي صندوق ۴۴.۲ ميليون ډالره ترلاسه کړي. د جولای په ۳۰ ، د ملګرو ملتونو د بشرپالنې د چارو د هيواد د کچې ټيم ستراتيژيکې موخې چې د بشرپالنې د عمل په کاري څواک کې د هغه د جنډر د څانګې له خوا د جنډر د مسير ورکولو د کم تر کمه معيارونو له خوا چمتو شوې وې ، تصويب کړې.

**شپږم. له نشه يي توکو سره مبارزه**

.۵۹ د راپور ورکولو د مودې په جريان کې ، د کښت لاندې سيمو او د اوپيمو د توليد دواړو په برخه کې د زياتوالي د ابتدايي نښو په درلودلو سره ، د دوبي د موسم د کوکنارو فصل پای ته ورسيد. د هلمند په ولايت کې ، د کوکنارو د فصل د پای ته رسيدو نه وروسته ، د طالبانو په بريدونه کې د پام وړ زياتوالی راغی. ترياک هم د ياغيانو د تمويل يوه باارزښته سرچينه پاتې شوې. د ودې

د موسم په جریان کې په هیواد کې د تریاکو د له منځه وړلو هڅې د امنیتي ننګونو له امله ، په خاص ډول د هلمند په ولایت کې ، د تیرې لسیزې په جریان کې تر ټولو ټیټې راپور شوې. د تریاکو د له منځه وړلو د عملیاتو په جریان کې د افغان امنیتي ځواکونو اته غړي وژل شوي او نور اووه ټپیان شوي.

۶۰. د مۍ د ۲۴ او د اګسټ د ۱۷ تر منځ ، د قانون نافذونکو چارواکو د مخدره توکو پر ضد ۳۲۵ عملیات ترسره کړي دي چې په نتیجه کې یې ۳۷۵ کیلو ګرامه هیروئین ، ۲۶۷ کیلو ګرامه مورفین ، ۲۱۶۳ کیلو ګرامه تریاک ، ۶.۴۱ کیلو ګرامه میتامفیتامین ، ۴۸۷ کیلو ګرامه چرس ، ۲۳۴۱ کیلو ګرامه جامد کیمیاوي پیش سازه توکي او ۱۶۲۸ لیتره کیمیاوي پیش سازه مایع توکي ضبط کړي. سر بیرې پر دې ، ۴۰۳ شکمن کسان نیول شوي ، ۶۳ نقلیه وسیلې ، ۵۳ میله وسلې او ۵۶ ګرځنده تیلیفونونه ظبط شوي. له نشه یي توکو سره د مبارزې په جریان کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو یو غړي وژل شوي او یو بل ټپي شوی.

۶۱. د جولای د ۱۹ څخه تر ۲۰ پورې ، د افغانستان ، قزاقیستان ، قزغیزستان ، تاجکستان ، ازبکستان هیوادونو ، د مرکزي آسیا د سیمه ییزو معلوماتو او انسجام مرکز ، د مخدره توکو د کنترول نړیوال بورډ او د مخدره توکو او جرمونو په هکله د ملګرو ملتونو دفتر د کیمیاوي توکو په اړه د سیمه ییزو استخباراتو د کاري ډلې لپاره په نهمه ناسته کې په تاشکند کې سره ولیدل تر څو د کیمیاوي توکو د قاچاق په اړه ورستي پرمختګونه وارزوي او په دې اړه راتلونکي ګامونه مشخص کړي. ګډونوالو د سیمه ییزو ارګانونو له لارې ، د همغږۍ د مرکز په شمول ، د معلوماتو د شریکولو په اړتیا ټینګار وکړ. د غونډې برخه اخیستونکو همدارنګه د ډله ییز امنیتی تړون د سازمانو او د شنګهای د همکاریو د سازمان په ګډون د نورو سیمه ییزو ارګانونو د غړیتوب د غځولو په اړه هم خبرې اترې وکړي. دوي همدارنګه د نورو اقداماتو په ترسره کولو هم موافقه وکړه چې موخه یې د هیروئینو د ناقانونه تولید په برخه کې د دې مادې د کارولو په هدف سیمې ته د قاچاقي کیمیاوي توکو د محملو شناسایی او خنثی کول دي.

اووم. د ماموریت ملاتړ

۶۲. د لړ ترلړه عملیاتي امنیتي معیارونو سره د اجابت څخه د یقیني کولو په موخه د استوګنې د تعمیرونو او کارونو په شمول ، د کندز په ښار کې د خپلې نوې ودانۍ د جوړولو چارې بشپړې کړې. په کندز ښار کې د نړیوالو ځواکونو ځای په ځای کول د اګسټ د میاشتې په اتمه پیل شول. د جون د لومړۍ نیټې او د جولای د ۳۱ نیټې تر منځ ، یوناما د هوا له لارې ۱۸۰ او د سړک لارې ۱۴۰ ماموریتونه او همدارنګه د لاسرسي ۱۵۰ ماموریتونه ترسره کړل د کومو په ترڅ کې چې د ولسوالیو چارواکو د یوناما د ساحوي دفترونو څخه لیدنې ترسره کړې.

اتم. ملاحظات

۶۳. په ورستیو میاشتو کې ، حکومت د فساد سره د مبارزې په برخه کې د هڅو او همدارنګه د افغانستان په اړه د بروکسل د راتلونکي مهم کنفرانس لپاره د چمتووالي په شمول د امنیت او اقتصادي ننګونو په حل کولو تمرکز کړی. په هرصورت ، پدې وروستیو اونیو کې سیاسي جنجالونو د حکومت یووالي ته زیان واړاوه. د پیچلو امنیتي ، اقتصادي او پراختیایي ننګونو د ځوابولو په موخه د کومو سره چې هیواد مخ دي ، قوي مشرتابه ته اړتیا لري. زه د هیواد په مشرانو غږ کوم تر څو له ځانه د همکاریو روحیه نندارې ته وړاندې کړي او د افغانستان د خلکو د منفعت په خاطر د مختنه تګ لپاره معنی لرونکی توافق ترلاسه کړي.

۶۴. یو شمیر نامتو افغانانو د دې جریان په اړه چې د حکومت لخوا په لار اچول شوی ، په عامه ډول اندیښنې څرګندې کړې. د اغیزمنو اصلاحاتو د پلي کولو لپاره د دولت د ظرفیت د لوړولو او ملاتړ لپاره ، زه دوي دې ته هڅوم څو په دې حواله رغوونکي ښکیتا اختیار کړي.

۶۵. دغه رغوونکی روش د یوې تشدیدونکې شخړې لپاره مهم دی. د لوړې کچې د دوامداره وسله والو نښتو او ځانمرګو بریدونو سره ، د نژادي هزاره ګانو د یوه لاریون په وړاندې د جولای د میاشتې د ۲۳ نیټې د برید په شمول چې د ۲۰۰۱ کال راهسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له خوا د یواځنې وژونکې پیښې په حیث ریکارډ شوی د کوم مسولیت چې داعش ومانه ، په افغانستان کې امنیتي وضعیت پېچلی پاته شوی. د ملکیانو د وژنو او ټپي کیدنو مخ پر لوړ ارقام ، د روانو بې ځایه کیدنو سره یو ځای ، د ښځو ، نارینه وو او ماشومانو د بشری حقونو ، په ځانګړي توګه ، د ژوند او فزیکی وقار د حقونو ، معارف او د خوځښت ازادي ته لاسرسی د دوامداره فرسایش او بدتر کیدو لامل کیږي. زه یو وار بیا په ټولو ډلو غږ کوم تر څو په وګړو د شخړې د اغیزو د راکمولو لپاره اقدامونه ترسره کړي. طالبان باید د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه حمایت وکړي. د ملکیانو د تلفاتو د راکمولو په اړه د خپلې ملي پالیسۍ او د ضمیمه یې عمل پلان د اعلانولو وروسته ، دا به د دولت لپاره مهمه وي چې د پلان د تطبیق چارې پر مخ بوزي.

۶۶. د یوه هنجاري چوکاټ د را منځ ته کولو په برخه کې د پرمختګ سربیره ، نا امني او ریښه یې تبعیض په دوامداره توګه په خاص ډول د ښځو په واسطه د بشري حقونو څخه د پوره برخمن کیدو مخه نیسي چې له امله یې د هغوي د نقش په اړه په عامه ژوند کې تاوتریخوالی او محدودیتونه را منځ ته کیږي. د نا معلومو بریدګرو له خوا د جولای په ۲۶ د غزني په ښار کې د ښځو د چارو د ریاست پر رییسې هدفي برید د هغو پام وړ ګواښونو څخه پرده پورته کوي چې د مخکښه ښځو پر وړاندې څوک چې په عامه ډګر کې کار کوي ، موجود دي.

۶۷. د شخړې وسعت او شدت او هغه اړتیا چې د افغان امنیتي ځواکونو لپاره کلیدي زمینه جوړونکي برابر کړي د ناټو د سازمان د پوره یادې شوې غونډې په پریکړو کې پیژندل شوې چې د غوڅ ملاتړ د ماموریت شتون او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو لپاره مالي تمویل وغځوي. د امنیت اړوند د ټولو وزارتونو د انتصاب/ټاکنو نهایي کیدل یو ښه پرمختګ دي. د امنیتي سکټور د پایښت او دوام او همدارنګه د ظرفیت ، مورال او داخلي انسجام د سترو مسلو د ځوابولو په موخه لا نورو هڅو ته اړتیا لیدله کیږي. زه د هر ډول اقدام په اړه چې د غیر منظمو وسله والو ځواکونو څخه کار اخلي اندیښمن یم. د حساب ورکونې او نظارت نشتوالی کولای شي د ښه والي څخه ډیر زیان ورسوي ، او د دولت مشروعیت او د قانون حاکمیت ته خطر پیښ کړي.

۶۸. د بروکسل له راتلونکي کنفرانس څخه دمخه ، حکومت د اداري فساد په وړاندې د مبارزې لپاره د نهادونو د پیاوړي کولو لپاره ګامونه اخیستي ، کوم چې د افغانستان د خلکو او تمویلوونکو د باور لپاره اړین دي. د حکومتوالۍ ، عدالت او فساد په اړه د عالي شورا لومړی ناسته او له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي مرکز رامنځ ته کول د حساب ورکونې او د خلکو د باور د زیاتولو په لور مهم لومړي ګامونه وو. دا یوه سیستماتیکه او پیچلي دنده ده چې باید ټاکلي پړاونه تعقیب کړي. د ټاکنو په ډګر کې ، اړتیا لیدله کیږي چې د راتلونکې انتخاباتي دورې لپاره د اصلاحاتو او تیاریانو په اړه پرمختګ چټک شي.

۶۹. د ملي شورا د پورته خونې له خوا د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر د دوهمې نیټې د ولسمشر په فرمان کې د بپشګیرانه/مخه نیونکي توقیف د مادې ردول یو ښه پرمختګ و. تمه کیږي چې حکومت به همدارنګه د هغې مادې احکام چې د وخت څخه وړاندې د توقیف د مودې د غځولو په اړه دي ، تعدیل کړي ترڅو د اساسي قانون او د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال تړون سره اجابت یقیني کړي.

۷۰. امنيتي او سياسي ثبات ، په ځانګړي توګه د کرنې په سکتور کې د فرصتونو پراختيا به د اقتصادي ودې لپاره يو لومړنی شرط وي. اقتصادي وده به همدارنګه د قانوني او مقرراتي چوکاټ په پلي کولو پورې هم اړه ولري چې پانګونې ، خصوصي سکتور ښکیلتیا او لومړني خدمتونو ته لاسرسي هڅوي. د پرمختيايی پايلو په لاسته راوړلو کې د ټولنو د حياتي رول په پيژندلو سره ، د مدني ټولنو سره سلامشورې او د بروکسل د کنفرانس څخه دمخه د وګړو د تړون د نمونې په اړه د پلانونو پراختيا د هڅونې وړ ده. د بروکسل د کنفرانس د اجنډا د چمتو کولو او پلې کولو په برخه کې د افغان ښځو معنی لرونکی ګډون به د هغه د بشپړ تحقق لپاره اړين وي.

۷۱. ۲۰۱۶ کال د شخړې له امله د زياتو خلکو د بې ځايه کيدو شاهد پاته شوی. زه د افغانستان د حکومت د ظرفيت په اړه چې د هغوي خونديتوب او هوساينه يقيني کړي انديښمن يم. که چيرې د دوي اړتياووې په بشپړ ډول و ارزول او پوره شي ، نو زيات لاسرسي ، امنيت او تمويل ته به اړتيا وي. زه د ټولو هيوادونو او هاخوا سيمې څخه غوښتنه کوم ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان د اوسنيو شرايطو په نظر کې نيولو سره د ټولو افغان کډوالو د ستنيدنې پروسه په خپله خوښه ، خوندي او له وقاره ډکه وي.

۷۲. په افغانستان کې د اقتصادي ودې او همدارنګه د سولې او امنيت د مسلو د ځوابولو لپاره په اوږد مهال کې د سيمې د هيوادونو ملاتړ اړين دی. د زيربنا په برخه کې متعدد نوښتونه به د سوداګرۍ او تبادلې په برخه کې لرليدونه تقويه کړي او د راتلونکي سوکالۍ لپاره به ګډې ګټې منعکسې کړي. د ټیکاو د يقيني کولو لپاره سيمه ييز چوکاټونه او د خبرو اترو پر مخ وړل مهم نقش لوبولای شي. د راپور ورکولو مودې د پاکستان او افغانستان تر منځ د اړيکو په برخه کې خاصې ننګونې مشاهده کړې. زه د دواړو هيوادونو د مشرتابه څخه غوښتنه کوم څو د ستونزو د اوارلو په برخه کې کار وکړي او اعتماد بيا پرځای کړي. زه د آسيا زړه — د استانبول تر پروسې لاندې د فرا ملي تروريزم د ګواښ سره په مبارزه کې د همکارۍ د رامنځ ته کولو ملاتړ کوم ، د دې پديدې د له منځه وړلو لپاره يوه همغږي سيمه ييز روش ته اړتيا ليدله کيږي.

۷۳. سوله يوه مهمه اړتيا ده. زه په دې چې طالبانو د افغان ولسمشر لخوا هغه غوښتنه چې د روژې په مناسبت يې په خپل بيان کړې وه او د طالبانو يې غوښتې وو څو د سولې له پروسې سره يوځای شي و نه منله ، خواشينی يم. ملګري ملتونه له ټولو خواو سره ښکېلتيا ته دوام ورکوي او د ملاتړ د برابرولو لپاره چمتو دی. د سولې لپاره د اړينو شرايطو رامنځ ته کول به يوه ژمن او متحد افغان مشرتابه ته اړتيا ولري. زه غړي هيوادونه هڅوم څو په افغانستان کې د ټيکاو لپاره لار هواره کړي ، او د امکان په صورت کې په طالبانو نفوذ او تاثير وارد کړي ، څو د افغان حکومت سره د مستقيمو خبرو اترو لپاره اساس جوړ کړي .

۷۴. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي تداميچي ياماموتو څخه په ستونزمنو شرايطو کې د هغوي د دوامداره تعهد لپاره چې موخه يې د افغانانو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي ، مننه کوم.